# د کاروبار لپاره تمویل



لیکوال:طیب سکون

لارښود استاد: پوهنیار ریحان الله رحیمي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تمويل

هر فعاليت او كاروبار د يو لړ مالي او پولي وسايل شتون ته اړتيا لري، تصدۍ او شركتونه بايد د خپلو اقتصادي فعاليتونو د ترسره كولو لپاره مالي او پولي وسايل په واک كې ولري تر څو د هغوی په درلودلو سره وتوانيږي، چې خپل هدف وړ فعاليتونه ترسره كړي. زيات شمېر تصدۍ او سهامي شركتونه د پانګو اچونو لپاره كافي مالي او پولي وسايل په واک كې نه لري؛ پس اړ دي چې د هدف وړ پانګه اچونو د ترسره كيدو په موخه مالي او پولي وسايل د نورو مالي ادارو څخه په لاس راوړي، تر څو د مالي او پولي وسايلو كمښت جبران كړي.

دا چې دغه پولي او مالي وسايل څه ډول په لاس راوړو او ترلاسه شوي مالي او پولي وسايل څه ډول تنظيم كړي، نو اړينه ده چې د تمويل د علم څخه باخبره وواسو. دا چې د يوې تصدۍ او شركت پانګه د مالک د پانګې، عامه اسهامو، خاصو اسهامو او قرضونو څخه تشكيل شوي وي؛ نو تمويل ددوې ترمنځ د مفادو د توزيع سياست، د اسهامو انشقاق، نشر او قيمت ګذاري، د نقدو پيسو جريان، د پيسو تهيه او تنظيم او داسې نور مسايل تر مطالعې لاندې نيسي.

په دغه سمينار كې به د كاروباري تمويل په اړه لازم معلومات ترلاسه كړئ.

د اقتصاد په ادبياتو كې د پانګې تهيه كولو ته تمويل ويل كيږي. يا په بله وينا د يو فعاليت لپاره د پيسو برابرولو ته تمويل ويل كيږي.

كه چېرته د يو كاروبار لپاره پيسې تهيه شي دې ته كاروباري تمويل وايې، كه چيرې د دولت د فعاليتونو د مخ ته وړلو لپاره پيسې تهيه شي دې ته عامه تمويل وايې او  كه چيرته د يو شخص لخوا د فعاليت د ترسره كولو لپاره پيسې تهيه شي دې ته انفرادي تمويل وايې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کاروباري تمویل: د لومړي ځل لپاره د یو کاروبار د پیل کیدو په خاطر او همدارنګه د کاروبار د پیل څخه وروسته د کاروبار د توسعې او پراختیا په خاطر د پولي پانګې برابرولو ته د کاروبار تمویل کیږي.**

**هر ډول کاروبار (که تولیدي وي که تجارتي، همدارنګه که مشتریانو ته اجناس عرضه کوي او که خدمت) په ښه شکل د خپلو فعالیتونو د ترسره کولو لپاره تمویل ته اړتیا لري. د یو کاروبار د تمویل مقدار د کاروبار د شکل، نوعیت او حجم په پام کې نیولو سره فرق کوي. د مثال په ډول: د یواځیني مالکیت کاروبار په پرتله په سهامي شرکتونو کې زیات مقدار پولي پانګې او پیسو ته اړتیا ده.**

## کاروبار ولې تمویل ته اړتیا لري؟

**ځواب:**

**الف: هر کاروبار د خپلو فعالیتونو د ترسره کولو لپاره په شکل د اشکالو یو اندازه ثابتو شتمنیو (ځمکه، ماشین الات، فرنیچر، موټرې، تجهیزات او داسې نور... .) ته اړتیا لري؛ چې پرته لدې شاید د یو کاروبار پیل کیدل او په ښه شکل سره پر مخ تلل ممکن نه وي د نومو‌ړو شتمنیو د اخیستلو لپاره تمویل ضروري دی.**

**ب: د یو کاروبار د ورځنیو فعالیتونو د ترسره کولو په نتیجه کې زیات شمیر مصارف رامنځته کیږي. د بیلګې په ډول: د اموالو خریداري، د مزد و معاش ورکړه، د بریښنا بیل، د سود تادیه کول، د اشتهاراتو مصارف او داسې نور... .**

**چې د نومو‌ړو مصارفو د پوره کولو لپاره هم تمویل ضروري دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کاروبار بڼې(form of business Organization):

**دا چې د کاروبار د تمویل مضمون اصلي او عمده موضوع د کاروبار د بیلابیلو شکلونو لپاره د اړتیا په وخت کې د خپلنی پانګې، پردی پانګې په شکل له بیلابیلو سرچنیو څخه د پولي پانګې او پیسو تهیه کول دي؛ نو مخکې له دې چې د کاروبار د تمویل په منابعو بحث وکړو لومړی باید د کاروبار د عمده شکلونو په اړه معلومات ولرو.**

### ۱. یواځینی مالکیت Sole proprietorship:

**د کاروبار دغه شکل تر ټولو پخوانی او ساده شکل دی. په یواځینی مالکیت کې د کاروبار ټوله سرمایه د ي، شخص له لوري کاروبار ته راوړل کیږي. په یواځیني مالکیت کاروبار کې یوازې یو نفر د کاروبار مالک وي او د کاروبار په هکله ټول تصمي نیونه هم د همدې یوه نفر په لاس کې وي.**

### د یواځیني مالکیت کاروبار ګټې:

**۱. دغه ډول کاروبار په اسانی سره رامنځته کیږي.**

**۲. د کاروبار مالک کولای شي خپل کاروبار ختم کړي.**

**۳. د کاروبار ټوله ګټه یواځې یو نفر ترلاسه کوي.**

**۴. سهامي شرکت په څیر دوه ځل مالیه پکې نه شته.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵. د کاروبار مالک په تصمیم نیونه کې بشپړ خپلواک وي.**

**د یواځینې مالکیت کاروبار نیمګړتیاوې:**

**۱. ګټه یې د سهامي او نورو شرکتونو په پرتله کمه وي.**

**۲. دا چې د کاروبار مالک یو نفر وي نو د کاروبار په مدیریت کې هم ستوونزې وي.**

**۳. د پور ترلاسه کولو کې اکثرهع ستونزې لري.**

**۴. دا چې پانګه دپکې کمه وي نو د یواځیني مالکیت کاروبار د پراختیا چانس هم کم وي.**

**۵. کیدایشي ډیر ژر له منځه لاړ شي.**

**۲. شرکت Partnership**

**د کاروبار هغه شکل ته واي چې په هغه کې دوه یا څو کسان د یو لیکلي او یا هم شفاهي قرارداد په اساس خپلې پانګې سره یو ځای کوي او د ګټې په ګډه سره کاروبار ترسره کوي. پدې شرط چې ګټه او تاوان به د شریکانو ترمنځ شریک وي.**

**د شرکت ګټې:**

**۱. په اسانۍ سره رامنځته کیږي.**

**۲. پانګه پکې زیاته وي.**

**۳. د کاروبار مدیریت پکې ښه وي.**

**۴. د ټولو شریکانو له لوري تصمیم نیونه کیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شرکت نیمګړتیاوي:**

**۱. د شریکانو ترمنځ شخړې او اختلاف رامنځته کیږي.**

**۲. د سهامي شرکت په پرتله د شرکت موده کمه وي، ځکه د یو شریک په مړینې سره شرکت له منځه ځي.**

**۳. د شرکت څخه د خپلې سرمایې په ایستلو کې ستوونزې.**

**۳. سهامي شرکت یا کمپنۍ Corporation:**

**سهامي شرکت د کاروبار هغه شکل دی چې د قانون په رڼا کې د حکمي شخص حیثیت لري او د قانون په رڼا کې د کاروبار مالکان جدا او کاروبار جدا وي. سهامي شرکت په خپل نوم سره کولای شي د حقیقي شخص په څیر د مالي ادارو او نوور ډلو سره مختلف ډوله کاروباري معاملات ترسره کړي لکه: د پور اخستل او ورکول، د شتمني،و اخستل او پلورل او داسې نور... .**

**د سهامي شرکت ګټې:**

**۱. د سهامي شرکت د شتون موده ډیره وي.**

**۲. د یواځینې مالکیت او شرکت په پرتله پانګه پکې ډیره وي.**

**۳. مدیریت یې ډیر منظم وي.**

**۴. ګټه یې ډیره وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د سهامي شرکت نیمگړتیاوې:**

**۱. ددې ډول شرکت تاسیس ډېر ستونزمن وي او ډېر قانوني مراحل لري، ډېر وخت نیسي او په تاسیس کولو یې ډېرې پیسې مصرفیږي.**

**۲. مالیه ورکړه پکې ډېره وي.**

**۳. د سامي شرکت مدیر د سهامي شرکت سهم لرونکو مفادو پر ځای خپلو مفادو پسې ګرځي.**

**۱. د کاروباري تمویل منابع (source of business finance):**

**د کاروباري تمویل لپاره دوه سرچینې وجود لري خپله پانګه او پردۍ پانګه؛ که چیرته د کاروبار لپاره پیسې د پور په شکل ترلاسه شي دې ته پردی تمویل وایې او که چیری د کاروبار لپاره پیسې د مالکینو پواسطه برابر شي دې ته خپلنې تمویل (Equity finance) وایې.**

**د کاروبار لپاره پیسې له لاندې لارو څخه تمویل کیږي:**

**الف. پردی تمویل (Debit finance): د مشتریانو څخه د وخت څخه وړاندې د پیسو ترلاسه کولو د تمویل څخه عبارت دی. ځینې کاروبار اداری په ټولنه کې د ښه شهرت څخه برخمن وي چې د دوی اجناسو او یا خدماتو ته ډیره تقاضا موجوده وي، نو دغه کاروباري اداري د مشتریانو څخه پیسې په پیشکي ډول اخلي او بیا وروسته ورته اجناس او یا خدمات وړاندې کوي، چې دې ته پردی تمویل ویل کیږي.**

**د پردې تمویل په لاندې ډول ډولونو ترلاسه کیدای شي:**

**۱. بانک څخه نقده پیسې اخستل(cash credit):**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې کاروباري ادارې د خپل کاروبار تمويل لپاره د بانک څخه نقدې پيسې د تضمين په بدل کې ترلاسه کوي (البته دغه تمضمين معمولاً د جايدادونو اسناد وي) او د پيسو څخه د استفادې په مقابل کې بانکونو ته سود ورکوي.

**۲. د اجناسو پور:**

ځينې وخت بانکونه خپلو مشتريانو ته د ټاکلې مودې لپاره د نقدو پيسو پر ځای د هغوی د ضرورت وړ اجناس تهيه کوي. کله چې دغه ټاکلې موده پوره کيږي، مشتريانو بانک ته ددغې جنس قيمت جمع کوي چې ورسره، ورسره بانک ته د بانک ګټه هم د نقدو پيسو په شکل تاديه کوي.

د مثال په توګه داسې فرضوو چې احمد يو جنراتور ته ضرورت لري، بانک نوموي ته د نقدو پيسو پر ځای جنراتور اخلي چې ددغې جنراتور اصلي قيمت ۳۰۰۰ افغانی دی، خو د نوموړي کس اړ دی چې بانک ته يو کال وروسته د شوي قرارداد په اساس ۴۰۰۰ افغانی تاديه کړي.

طيب
سکون
SAKOON

**۳. د ګټې ايسارول:**

دا پدې مفهوم کله چې کاروبار ګټه وکړي، د شريکانو د توافق په اساس ټوله ګټه يا د ګټې يوه برخه په کاروبار کې د نورې پانګې اچونې لپاره ايساريږي او نور د کاروبار پر شريکانو ويشل کيږي.

**۴. اجاره:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې وخت کاروباري اداري د خپل کاروباري فعالیت د مخته وړلو لپاره یوه ځمکه، یو کور، یو ماشین، موټر او نور د معلومې مودې لپاره په اجاره اخلي، کله چې موده پوره کیږي دغه ځمکه، کور، ماشین، موټر او یا نور څه بیرته خپل اصلي خاوند ته ورکول کیږي، البته ددغو شتمنیو د استفادې په مقابل کې د کاروبار پیسې (کرایه) چې دا هم په پردۍ تمویل کې شامل کیږي.

**۵. اوور ډرافت:**

د اوور ډرافت د قرار داد په اساس یو سوداګر د خپلو پیسو ترڅنګ چې په خپل بانکي حساب کې یې لري کولای شي چې یوه اندازه نورې ټاکلې پیسې هم د بانک څخه ترلاسه کړي. کله چې نوموړي سوداګر د خپلو پیسو پرته نورې ټاکلې پیسې د بانک څخه ترلاسه کوي په نوموړو پیسو باندې سود وضع کیږي.

د مثال په ډول علي په خپل بانکي حساب کې سل زره افغانۍ لري، خو د بانک د قرارداد پر اساس نوموړی کولای شي چې د سل زره افغانیو تر څنګ پنځوس زره نورې هم د بانک څه ترلاسه کړي، کله چې علي د سل زره افغانیو پرته هر څومره پیسې (پنځوس زره یا لدې کمې) وباسي په هماغه اندازه ورباندې سود وضع کیږي، داسې فرضوو چې علي د بانک څخه ۱۲۰۰۰۰ افغانۍ وباسي، نو پدې وخت کې علي مجبور دی چې په ۲۰۰۰۰ افغانیو باندې بانک ته سود ورکړي، نه په ۱۲۰۰۰۰ افغانیو باندې ځکه چې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ خو د علي خپلې پیسې دي او دغه ۲۰۰۰۰ افغانۍ د اوور ډرافت په شکل د بانک څخه وباسي.

د اوور ډرافټ پیسو فیصدي نظر بانکونو ته فرق کوي.

**پردي تمویل زیانونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ـ د سود تادیه کول:**

**کله چې د کاروبار د تمویل لپاره پیسې په پور واخستل شي یو تاوان یې دادې چې ددغې پور سود باید تادیه شي.**

**ـ پور ورکوونکي کاروباري محکمې ته راکش کیدلی شي:**

**که چیرې کاروبار په خپل وخت کې پور ورکوونکي ته د هغه پور یا سود په ټاکلي وخت کې ور نه کړي، نو پور ورکوونکی کولای شي، دغه کاروباري محکمې ته راکش کړي.**

**د پوریز یا پردي تمویل گټې:**

**۱. د کاروبار پراختیا:**

**نغدې پیسې په کاروبار کې د ملا د تیر حیثیت لري، نو ویلی شو چې نغدې پیسې د کاروبار په پراختیا کې د پام وړ رول لري او پرته د نغدو پیسو څخه یو کاروبار نه شي کولای پراختیا وکړي.**

**۲. پور ورکونکي د کاروبار په چارو کې د مداخلې حق نه لري:**

**پور ورکونکي د کاروبار په چارو کې د مداخلې حق نه لري دوی صرف کولای شي چې خپلې پیسې جمع سود په ټاکلي موده کې د کاروباري نه ترلاسه کړي، مگر که چیرته دغه پیسې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پور پر ځای د یو شمیر کسانو لخوا پدې شرط راوړل شي چې نومړي کسان د کاروبار مالکین وګڼل شي. نو بیا هغوی کولای شي چې د کاروبار په تصامیمو کې هم مداحله وکړي.**

**۳. ګټه:**

**کله چې کاروبار ګټه وکړي، نو د کاروبار مالک ددې ګټې کمه برخه پور ورکوونکي ته د هغې د پور په بدل کې ورکوي او د ګټې ډیره برخه د کاروبار مالک سره پاتې کیږي، مګر ددې برعکس که همدغه پیسې یو چانه واخستل شي او ددې پیسو په بدل کې هغه په کاروبار کې شریک کړای شي نو بیا نیم په نیمه هغه ته د هغې د شراکت له وجهې ورکول کیږي.**

**۴. بیړنی جاري مصارف:**

**ددې لپاره چې یو کاروبار د څنډ او خنډ سره مخامخ نه شي، یو کاروباري کولای شي چې د خپلو عاجلو او بیړنیو مصارفو د تمویل لپاره پور ترلاسه کړي، نو د پور ګټه همدا شوه چې کاروبار له ودریدو (توقف) څخه وساتل شي.**

**۵. د کاروبار د انحلا مخنیوی:**

**ځینې وخت کاروبار د انحلال سره مخ وي او کاروباري نه شي کولای چې خپل مصارف تمویل کړي نو دغه وخت کې کاروباري کولای شي پور ترلاسه کړي او د انحلال مخنیوي وکړي.**

**٦. د پور په برخه کې د اعتبار ترلاسه کول:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کله چې کاروباري خپل پوروڼه په خپل وخت تادیه کړي، نو کاروباري د قرضي په برخه کې اعتبار ترلاسه کوي او په راتلونکي کې کولای شي چې په اسانۍ سره پور ترلاسه کړي.**

**خپلنی تمویل (Equity finance):**

**کله چې د کاروبار د مخته وړلو لپاره د کاروبار د مالکینو یا مالک لخوا پیسې برابرې شي دې ته خپلنې تمویل ویل کیږي. مثلاً ادریس سل زره افغانۍ لري پر همدې پیسو غواړي یو کاروبار پیل کړي چې دغه سل زره افغانیو ته خپلنې تمویل وایې.**

**د خپلني تمویل گټې:**

**۱. د اوږدې لپاره پانګه:**

**دا پدې معنا کله چې د یو کاروبار لپاره پیسې د مالک یا مالکینو له خوا راوړل شي نو دا پیسې د اوږدې مودې لپاره په کاروبار کې باتې کیږي.**

**۲. د پور له اندیښنو خلاصون:**

**دا پدې معنا کله چې د یو کاروبار لپاره پیسې د مالک یا مالکینو له خوا راوړل شي نو کاروباري به د د پور له اندیښنو خلاص وي.**

**۳. په پور ورکونکي باندې د گټې نه ویشل:**

**دا پدې معنا کله چې د یو کاروبار لپاره پیسې د مالک یا مالکینو له خوا راوړل شي نو ټوله گټه همدوې ته پاتې کیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴. د پور ترلاسه کولو وړتیا:**

**کله چې کاروباري اداره د چا نه پوروړي نه وي، نو خلک په کاروبار باندې اعتبار کوي او په اسانۍ پور ورکوي.**

**د خپلنې تمویل زیانونه:**

**۱. غیر ضروري نقدې پیسې:**

**که چیرته کاروبار تمویل لپاره د خپلو پیسو نه استفاده وشي، نو ځینې وخت ددې امکان شته چې د پیسو د ي،ې برخې نه استفاده ونه شي چې دې ته غیر ضروري نقدې پیسې وایې.**

**۲. د پیسو په تخصیص کې د نظر نه یووالی:**

**چون کاروبار ته د مختلفو شریکانو له لوري پیسې راوړل شوي دي، نو ددغو پیسو په تخصیص کې هم مختلف نظرونه موجود وي چې پایله کې ستونزې را ولاړیږي.**

**پای**

**۳۰/۲/۱۳۹۷**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**